# Summaries in Pashto

منخګړتوب یا **Intervention** لنډیز ګڼه ۱۱،۱

**خانګړی کلیزه ګڼه: دوهمه برخه**

**یوه پیلامه په یوه ناسته درملنه او دهغی بالقوه اثرات په بشری اضطراری حالاتو کی**

لیکنه: ***Karen Elizabeth Paul & Mark van Ommeren***

یوه ناسته درملنه یو ه خانګړی بڼه د درملنی دی چی د مسلکی کسانو لخوا ترسره کیږی څوک چی هڅه کوی خپل موجوده پوهه او مهارتونه کاروی ترڅو د مراجعه کوونکی د اصلی ستونخی غم په یوه ناسته کی وخوری.

دا ناسته په داسی تفاهم او چاپیریال کی ترسره کیږی چیبوه ناسته ممکن یواخینی ناسته وی.

دیوی ناستي درملنی خدمات نن سبا په ښه اقتصاد لرونکو هیوادونوکی مخ په ډیریدو دی. دا مقاله دیوی ناستی درملنه په حادو عاجلو حالاتو کی په غریبو او میانه اقتصادلرونکو هیوادونوکی امتحانوی. دا مقاله بیانوی: (۱): یوه ناسته درملنه د نږدی پیښ شویو بیړنیو حالاتوته عیاره شوی ، (۲) دیوی ناستی درملنی ماډل په ښه اقتصادلرونکو هیوادونو کی. (۳) دهغی اړیکی د لمړنیو روانی مرستو سره (۴) د موډل جوړول او دهغی په شواهدو ولاړ بنیاد او (۵) دا موډل دیوی مداخلی او خدماتو په بڼه. په داسی حال کی چی یوه ناسته درملنه په بشری بیړنیو حالاتو کی دکار وعده کوی

په بشری بیړنیو حالاتو کی مخکی له دی څخه چی دا درملنه په شواهدو ولاړی بشری بیړنیو خدمتونو په حیث وکارول شی د *randomised controlled* څیړنی لپاره اړتیا شته.

**کلیدی الفاظ**: یوه ناسته درملنه، بشری بیړنی حالات، په شواهدو ولاړ

---

**معالجوی فوتو ګرافی: دتروما څخه وروسته ودی انکشاف په خوانو مهاجرینو کی د تایلند په شمال کی:**

**لیکنه:** هیلری پراګ او ک وین ووجیل

د معالجوی فوتوګرافی درملنی وروستیو کتنو ددی تخنیک نادره ظرفیت چی د فرهنګ او ژبی څخه وراندی خی، دواړه

اړینی خانګړتیاوی د نړیواله تروما درملنی. دا مقاله یوه پروسه دکوم له طریقه خوانانو وکولی شو په خپل-درک کی بدلون وروسته د *photojournalism* ورکشاپ څخه په ګوته کړی، په استعمال د غیر معمولی تعبیری تحلیلی طریقی او د مهاجرینو په کلیوالی مرکزد تایلند په شمال کی. مولف (۱) یوه پراخه بڼه د معالجوی فوتوګرافی په بشری مرستو کی (۲) دتروما وروسته ودی مفکوره په ترومااتایز شوی خوان نفوذ د تایلند برما په پوله کی امتحانوی او (۳) د یوی نوی بالقوه ساحی لکه څنګه چی د *Tedeshi & Calhoun's* عملی کونی مفکوروی دتروما وروسته ودی بنیاد په جنوب-لویدیخه آسیا کی پیشنهادوی. پایلی پیشنهاد وی دخان درک او دهغه رول په ټولنه کی، د پروژی په په چوکات کی ښه شوی دی دیوه حد او ظرفیت ددی طریقی بحث هم وراندی کوی.

کلیدی الفاظ: معالجوی فوتو ګرافی، وروسته د تروما وده، دشان مهاجر،د تروما په اړه خبرشوی دپروژی انکشاف

---

**هیڅ پای په لیدکی نشته**: دیوه ټولنیز عدالت په چوکاټ کی په دوامداره متنازعه خایونو کی د روانی روغتیا لپاره:

لیکنه: ***Shireen Taweel***

اشغالشوی فلسطینی منطقه دیو ه دوامداره زورزیاتی او شخړی بیلګه دی. دامقاله د ***PTSD*** ماډل عملی کیدنه دیوه روان تاوتریخوالی چی د فلسطینینانو لخو ا تجربه کیږی تشریح کوی. دلیل راوړی چی دیوه انفرادی لیدلوری؛ دتروما له نظره؛ممکن دفلسطین د ستونخی لپاره ښه لاره نه وی، خو یو ماډل په یوه ؛ټولنیز ستونخی؛ مفکوره ولاړ به ممکن ډیر مناسب وی، چی انفرادی اوډله ایزی انسانی ستونخی چی څنګه دژوند ټولنیز قوی عواملو پوری ارتباط لری څیړی. ددی په څنګ کی، لیکوال بیانوی چی په بشری حقونو پوهه، ټولنیز عدالت چوکاټ دواړه جامع او هم مناسب چوکات دی چی دخلکو دروانی روغتیا اړتیاوی ته خواب ووایی چی په دوامداره شخړو سره متاثره شوی وی

لیکواله زیاتوی چی ټولنیز عدالت د عامه روغتیا اصلی پرنسیپ جوړوی او داچی په ریښتیا سره ټولنیز عدالت ددوی په کارګی مدغم شی، دروانی روغتیا کارکوونکی باید خپل دودیزه رول وغځوی او د فلسفی او وکالت اجزاوی پکی شاملی کړی.

**کلیدی الفاظ**: ټولنیزه عدالت، تروما موډل، posttraumatic stress disorder ، بشری حقوق



Copyright © War Trauma Foundation. Unauthorized reproduction of this article is prohibited.

**د منځګړتوب یا *Intervention* لمړی لسیزه: حقایق، ارقام، او مخه**

لیکنه: ***Simon Van den Berg, Grace Akello, & Shobna Sonpar***

دلسوکلونو په دوران کی، *Intervention* یاد منځګړتوب ژورنال ۱۳۹ کتل شوی مقالی خپری کړی، ۷۳ ساحوی راپورونه ، ۳۶ کتابونو کتنی او ۳۳ بحث پانی.
مقاله علمی مهارتونه، عملی تجارب او بحثونه د روانی روغتیا او روانی ټولنیز منځګړیتوب وروسته د دواړو طبیعی او غیر طبیعی آفات تر پوښښ لاندی نیسی. د ٪۶۱ لیکوالان د پرمختللو او ٪۲۸ د میانه اقتصاد لرونکو او خراپ اقتصاد لرونکو هیوادونو څخه منشه اخلی. معنوی شننی د کتل شویو مقالی بدلو ن د نظریوپه موافقه او راپورته کیدونکی نو بحثونه دروانی روغتیا او روانی ټولنیز منځګړتوب په هکله ښکاره کوی. د *Intervention* یاد منځګړتوب په لمړیو کلونو کی، انفرادی معالجوی طریقی ډیری بارزی و ی د ورستیو کلونو په پرتله کوم چی ډیره پاملرنه دټولنی په منځ طریقو ته ورکوله. یوه بله موضوع چی د ګټه اخستونکو دخیلول دی دپروګرامونو په پلان او ارزیابی کی. یو غټ تعداد د کتل شویو مقالو (٪۲۸) دپالیسی اړوند شیونه بیانوی، لکه لاربښودونه او دروانی روغتیا مدغمول په عمومی روغتیاکی په جنګ ځپلو ملکونو کی. داسی سپارښتنه کیږی چی د راتلونکی کال لپاره دجنګ ځپلو هیوادونو څخه مقالی ډیری ښی او دلمړیتوب حق ورکړل شی او دهغو خلکو نظریات چی شدیدی پیښی یی تجربه کړی باید مدغم شی.

**کلیدی الفاظ:** سیستماتیک کتنه، روانی ټولنیزه منځګړتوب، جنګ څخه وروسته، آفتی ځایونه، مفکوره، تمرینات

---

**غیر مسلکی مشاوره په بشری اداروکی: یوه ساحوی راپو دروزنیزو موادو په برابرولو د غیر مسلک مشاورینو لپاره**

لیکنه: *Barbara Juen, Heidi Siller, Michael Lindenthal, Leslie Snider, Marie Nielsen, Marie Louise Muff & Nana Wiedemann*

غیر مسلکی مشاورین ارزښتمنده روانی ټولنیزه مرسته لکه دتیلیفون له لاری مرسته د سرطان ناروغانو لپاره، دبحرانی حالاتو څخه وروسته مرسته اویا ځانګړی مرسته پناغوښتونکو لپاره او نور حساسو ګروپونو لپاره په ډول ډول حالاتوکی برابروی. دامقاله د ځلو رو خیریه ادارو یو ه کنسوشیم پروسه بیانوی چي په تعقیب یی د روزنیز لاربښود جوړول د غیر مسلکی مشاورینو لپاره وروسته له دی چي معلومه شوه چي هیڅ روزنیز نصاب نشته.
پروسه دلاندی پړاونو څخه جوړه شوی وه: ۱) دغیر مسلکی مشاوری د ادبیاتو یا لیکنو کتنه ۲) دنقشه کولو راپور چي اداری او شته مواد د غیر مسلکی ماشورینو لپاره په ګوته کړی ۳) داړتیا ځیرنه چي د مربیانو اړتیاوی په ګوته کړو ۴) دروزنی دموادو لمړی خاکه تیارول ۵) روزنیز کورسونه په امتحانی ډول په لاره واچوی ترڅو د ګډونوالو او استادانو اړتیاوی او توقوعات لاښه په ګوته کړی ۶) دامتحانی روزنیز کورس په بنیاد مواد عیارکړی.

نهایی مواد له ډول ډول تعلیمی طریقو څخه جوړ شوی او دا مواد دموجوده مواد دیو ه ضمیمی په ډول پکښی مدغم کوی یا دیوه ځپلواکو موادو په ډول د غیر مسلکی مشاورینوداستعمال لپاره په ډول ډول ځایونکی کارول کیږ ی.

**کلیدی الفاظ:** غیر مسلکی مشاوره، بشر خیریه ټولنه، روزنیز مواد

---

**دسوریی مهاجرپه اوردن کی: دیوه روانی روغتیا کلینیک جوړونه دځپلو مهاجروملکرو لپاره**

**لیکنه:** *Mohammad Abo-Hilal & Mathijs Hoogstad*

*هغه وخت چي تاوتریخوالی په سوریه کی زور واخسته، دروانی ناروغیو یو ډاکتر او څو روان پیژندونکو، ټولو د ، سوریی روښانه راتلونکی ؛ په نامه یوه اداره جوړه کړه چي دسوریی محاجروته روانی روغتیا او روانی ټولنیز ی چوپړتیاوی په اوردن کی وړاندی کوی. داراپور بیانوی چي څنګه کورنی دیوه سخت سفروروسته ځای پرځای کیږی او ځا ن دنیو شرایطو سره عیاروی او د ستونځوسره تعامل کوی او خپل ارتجاعیت تقویه کوی. ؛ دسوریی روښانه راتلونکی؛ دلتډ محاله ملاتړاو مشاوری او په لیږلو د انفرادی او فامیلونو ډیوالو او اوردنی موسسوته برابروی او همدارنګه دنورو مرستو لپاره غیر رسمی شبکوته*

**کلیدی الفاظ:** سوریه، اوردن، مهاجرین، اړتیاوی



Copyright © War Trauma Foundation. Unauthorized reproduction of this article is prohibited.

**روانی روغتیا کارونه دهغه خلکو لپاره چي د دولتی تروریزم له کبله په یوروګوای کی متاثره شوی: یوه شخصی کیسه د ۲۵ کلونو کار په اړه**

لیکنه: ***Celia Maria Robaina***

په دی شخصی کیسه کی، لیکوال خپله دروانی روغتیا شخصی تجربه دهغو خلکو سره چي د سیاسی تاوتریخوالی څخه یی رنځ وړی دی هغه چي د یکتاتوری په دوران کی په یوروګوای کی د ۱۹۷۳ او ۱۹۸۵ ترمنځ پیښ شوی بیانوی.
لیکوال له دی ټولنیز- سیاسی او روان رغوونکی داکتر په بنه خپل شخصی تصویر دهغه وخت څخه تر ننه وړاندی کوی.
لیکوال استدلال کوی روانی ټولنیز ه تروما چي دد ولت لخوا رامنځته شوی یواځی دروانی روغتیا په کار نشی رغیدلی. ددی په څنګ کی لیکوالی ولیدل چي د مجرمینو معافول دپیښو قربانیان بیا ترومااتایزکوی او دهغوی روانی روغتیا لا متاثره کوی. د عدالت او بیا ځای پرځای کونی پروسه په یوروګواکی ډیره په کراره او دردونکی ده. روحی کار دهغه خلکو سره چي د دولتی تروریزم له کبله متاثره شوی ګروپی شننی ته اړتیا لری او لکه څنګه چي لیکوال دلیل راوړی، دروانی روغتیا کارکوونکی باید دخپلو ناروغانو هڅوسره یوځاشی. په یوروګوای کی لکه دنورو لاتینی امریکی، روان درملوونکو (*psychotherapists*) یوه ټولنه جوړه کړه چي دبقایاوو سره مرسته وکړی او خپل آوازیی دخلکو په ویناووګی پورته کړ. پدی سره دپیښی په چاپیریال کی چوپتیا ماته شوه او مرسته یی وکړه چي ددولتی تنظیم شوی تاوتریخوالی اصطلاح دروانی ټولنیز و اثراتو سره رامنځته کړی. په خپل کارکی، لیکوالی د بدلون اهمیت د همکارانو په منځ کی په شمول دهغه همکارانو چي دنورو ملکونو څخه وی.

**کلیدی الفاظ**: دولتی تروزیزم، دیکتاتور رژیم، یوروګوای، روانی روغتیا، سیاسی تاوتریخوالی



Copyright © War Trauma Foundation. Unauthorized reproduction of this article is prohibited.